# پرنشه يي توکو ايراني روږدي کسان په افغانستان کې

**Author:** Zia Ahmadi

پوليس او روږدي کسان له پولې څخه د ايراني اتباعو د را اړولو او د بېرته تګ د مخنوي ربوټونه ورکوي.

په افغانستان کې د آی ډبليو پي آر د خبريال، ضيا احمدي ليکنه

پر نشه روږدي سلګونه ايراني اتباع د افغانستان لويديځ ولايت، نيمروز ته راوړل کيږي، چې يو شمېر يې ادعاکوي د خپل هېواد د پوليسو له خوا د هغوی له خوښې پرته دلته پرېښودل کيږي.

افغان چارواکي اندېښمن دي چې تهران خپله ټولنيزه ستونزه صادروي، خو ايراني دپلوماتان وايي دا د هغوی تګلاره نه ده. يو شمېر نور وايي لږ تر لږه د نشه يي توکو يو شمېر روږدي کسان افغانستان ته رااړوي، ځکه دلته نشه يي توکي د هرچا لاس ته په اسانۍ ورځي او د ايراني چارواکو له ظالمانه سزا سره نه مخامخ کيږي.

د اووه ويشت کلن ضيا په نامه د نشه يي توکو يو کاروونکی کيسه کوي چې څنګه د ايران د سيستان – بلوچستان  ايالت د زاهدان په ښار کې ونيول شو او د يوې ډلې افغاني کډوالو سره يوځای يې له پولې دې خوا ته راواړول شو.

هغه آی ډبليو پي آر ته وويل: "زه اسناد لرم چې زما د ايران د تابعيت ځرګندونه کوي. کله چې په نيمروز کې افغاني ادارو ته ورغلم، راته يې وويل چې سرحد ته لاړ شم او د ايران له سرحدي پوليسو غوښتنه وکړم چې [خپل هېواد ته مې] واړوي. خوکله چې هلته لاړم، ايراني سرحدي پوليسو وشکنځلم او پرې يې نه ښودم چې خپلې هېواد ته لاړ شم."

رضا وايي د نيمروز ولايت په مرکز، د زرنج په جوماتونو او زيارتونو کې بيده کيږي او په هغو خوړو  شپه او ورځ تېروي چې له خځلو يې راټولوي. نوموړي په دې وروستيو کې خپل يو ځلوېښت کلن هېوادوال، چې هغه هم د زاهدان اوسيدونکی و، خاورو ته وسپاره او د هغه په وينا د "نشه يي توکو د نشتوالي" له امله مړ شوی و.

هغه وويل: "په نشه يي توکو نورو روږدو کسانو هغه د دوو قبرونو تر منځ ښخ کړ."

د ۳۸ کلن حسين په نامه يو بل سړی وايي له هغه وروسته بندي شو، چې کورنۍ يې د ايران د زابل ولايت  پوليسو ته پر نشه يي توکو د هغه له روږدي کېدو څخه شکايت وکړ.

هغه هم وويل چې له يوې ډلې افغاني شړل شوو کډوالو سره يوځای د ايران له خاورې راوايستل شو. کله چې يې افغاني پوليسو ته خپله ايراني پېژندپاڼه وښوده. هغوی کور ته د هغه د استولو هڅه وکړه، خو د پولې هاخوا ساتونکو خپلې خاورې ته د هغه د ننوتلو مخه ونيوله.

د نيمروز ولايت له نشه يي توکو سره د مبارزې رئيس، محمد انور مرادي وويل، هره اوونۍ له لسو څخه تر پنځلسو پورې پر نشو روږدي ايرانيان نيمروز ته راځي.

هغه وويل: "د نيمروز په ولايت کې پر نشو تر ۲۰۰۰ پورې روږدي کسان شته، چې اتيا سلنه يې له ايران څخه راشړل شوي افغانان او ايرانيان دي. تر اوسه څرګنده نه ده چې ولې ايراني سرحدي چارواکي خپل اتباع افغانستان ته راشړي."

د نيمروز د امنيې قوماندان، حاجي موسی رسولي وايي په تېرو دوو مياشتو کې په سيمه کې د هغه سړو ٤٠ تنه ايراني اتباع بنديان کړي دي،خو په زرنج کې يې د هغوی پته ونه ښوده. د زرنج چارواکو زيار ايستلی چې په وروستيو اوونيو کې لس تنه پر نشه روږدي کسان بېرته خپل هېواد ته واستوي، خو ايراني سرحدي پوليسو هغوی نه دي پرېښي، چې خپل هېواد ته لاړ شي.

د نيمروز  د والي اداري رئيس، حاجي نجيب الله علمي وويل، موضوع د ايراني چارواکو غوروونو ته  رسول شوې، خو د قناعت وړ کوم ځواب يې تر لاسه کړی نه دی.

د هرات په قونسلګرۍ کې ايراني دپلومات چې د نامه د نه څرګندولو په شرط يې خبرې کولې، دا خبره  کوربټ رد کړه چې ګوندې هېواد يې خپل اتباع شړي. هغه وويل هغه افراد چې ادعا کوي ايراني اتباع دي، په حقيقت کې افغانان دي چې له هغه هېواده شړل شوي او اوس بېرته هغه هېواد ته د ننوتلو لارې چارې لټوي.

هغه وويل: "څوک چې اسناد لري کولای شي ايران ته لاړ شي، ايراني سرحدي چارواکي به ورسره مرسته وکړي."

د نيمروز ولايت اوسيدونکي وايي زياتره ايرانيان پخپله خوښه ځي او راځي چې د هيرويينو او نورو نشه يي توکو له ازاد بازارڅخه ګټه واخلي.

دحاجي سلطان په نامه د يو رستوران خاوند وويل: "په سرحدي سيموکې دقيق کنترول نشته. په دې توګه ايرانيان له پولې ها خوا څخه را اوړي، نشه يي توکي اخلي او بېرته ستنيږي."

هغه وويل د هغه په باور داسې اوازې خپرې شوي دي او يو شمېر مرکه شوي چارواکي هم په دې اند دي چې: "ايران په لاسي ډول پر نشې روږدي خپل اتباع افغانستان ته راليږي، ترڅو په افغانانو کې د وژونکو ناروغيو لامل شي."

افغان حکومت زيار باسي چې د نشه يي توکو د مخ  پر ودې کاروونکو د درملنې لپاره د درلمنې مرکزونه پرانيزي. په نيمروز کې د روغتيا د برخې کارکوونکي وايي هغوی دومره امکانات نه لري چې د ايراني اتباعو درملنه دې هم وکړاي شي. د افغانستان له نشه يي توکوسره د مبارزې وزير، ضرار احمد مقبل په دې وروستيو وختونو کې وويل چې د يو مليون اټکل شوو روږدو کسانو د يوې سلنې درملنې امکانات  لري.

د نیمروز ولایت د روغتیا رئیس، دکتور  نوراحمد وویل، داسې کلینیکونه نشته چې د هرفرد روغتیایي کتنه ترسره کړي، که هغوی له ایران څخه راستانه شوي کډوال وي اویا هم ایراني اتباع.

هغه وویل: "له لومړنیو ارزونو څرګندیږي، د نیمروز ولایت ۵۰ سلنه روږدي کسان داسې ستنې کاروي چې د ایچ آی وي/ایدس او ژیړي په څېر ناروغتیاوو د خپرېدو لامل کیږي."

**Location:** Iran
افغانستان
**Topic:** Health

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D9%BE%D8%B1%D9%86%D8%B4%D9%87-%D9%8A%D9%8A-%D8%AA%D9%88%DA%A9%D9%88-%D8%A7%D9%8A%D8%B1%D8%A7%D9%86%D9%8A-%D8%B1%D9%88%DA%96%D8%AF%D9%8A-%DA%A9%D8%B3%D8%A7%D9%86-%D9%BE%D9%87-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%DA%A9%DB%90